## مفتي تاج الدين پر مسلمانانو غږ وکړ چې د روسيې د قانون د اصلاح لپاره رایه ورکړي

### خبر

په روسیه کې د قانون د اصلاح لپاره رایه اچونه ترسره شوه. د قانون دغه اصلاح د پوتین له واک اوږدولو سره مرسته کوي او د قانون نور ټول اصلاحات د دې لپاره دي چې خپلې شومې موخې پرې پټې کړي. په روسیه کې د مسلمانانو د مرکزي روحاني ادارې رییس تاج الدین د روسیې پر مسلمانانو غږ وکړ، چې د قانون له دغې اصلاح څخه ملاتړ وکړي.

په هر هېواد کې باید د الله سبحانه وتعالی قانون وي، خو دلته داسې یو قانون دی چې خلکو په خپله خوښه قبول کړی. دا د نوي ژوند اړتیا ده، هغه قانون چې خلکو جوړ کړی وي باید اصلاح پکې راوستل شي. مومنان د خپل راتلونکي نسل لپاره پاملرنه کوي او د نېکمرغۍ هیله ورته لري، ځکه نو باید رایې ورکولو لپاره ولاړ شي. د دوی له نظره: «چېرته چې زموږ نیکونه، موږ پخپله او زموږ راتلونکی نسل ژوند کوي هغه زموږ هېواد دی.» ځکه نو دا زموږ لپاره یوه اړتیا ده چې د قانون د اصلاح لپاره، خپله ارزښت لرونکې رایه وکاروو. موږ اړتیا لرو چې د خپل هېواد د ژوند په پایښت کې ګډون وکړو.

### تبصره

د روسي مسلمانانو د روحانیت مرکزي ادارې مشر د روسیې مسلمانانو ته د یادې موضوع په هکله یادونه وکړه. له ټولو لومړی د تاتارستان او باشکورټوستان مسلمانان هغه خلک دي ته چې د ۱٦ پېړۍ له لومړۍ نیمايي څخه د ۱۷ پېړۍ تر لومړیو پورې د روسیې دولت چې تازار ایوان یې حاکمه وه استعمار کړي و. له هغه څخه راپدېخوا د تاتارستان او باشکورټوستان پر مسلمانانو باندې کفار حکومت کوي، چې تاج الدین هېڅ اشاره ورته ونه کړه. د کافرو اشغالګرو د قانون د اصلاح یا ملاتړ لپاره د رایې ورکول د کفر د قانون، قدرت او اشغال په رسمیت پېژندلو په مانا دي. د دې پر ځای چې د کفارو له اشغال څخه د خلاصون لپاره هڅه وکړي یا لږترلږه له هغوی سره همکاري ونه کړي او یا هم د دوی حاکمیت رد کړي، دوی نور هم د هغوی له قانون او قانون له اصلاح سره مرسته کوي.

همدارنګه د روسیې د مسلمانانو د روحانیت مرکزي ادارې مشر دا هم ونه ویل چې د مسلمانانو لپاره په سېکولر قانون (د بشر په لاس جوړ شوي قانون) کې ګډون کول او یا رایه ورکول خو کبیره ګناه ده. د سېکولر قانون په شتون کې چې هلته د بشر حقونه قانوني بڼه ولري او بیا یې دوی اصلاح کوي چې په دې سره دوی د یوه سړي

احترام کوي، په داسې حال کې چې دوی د الله سبحانه وتعالی حق بنده ته ورکوي، ځکه د قانون جوړولو حق یوازې الله سبحانه وتعالی لري. د اسلامي شریعت د قانون له نظره د داسې قانون لپاره رایه ورکول منع او لویه گناه بلل شوې ده. دا یې هم نه و ذکر کړي چې د دغه قانون د اصلاح اصلي موخه د پوتین د قدرت او FSB(د بهرنیو اطلاعاتو خدمتونو د فدراسیون) دوام دی، چې په اسلام ضد سیاست لکه د اسلامي ادبیاتو منع کول، د حجاب بندول، په کاکزېس کې د مسلمانانو عاموژنه، د اسلام او مسلمانانو ځپل یوازې په روسیه کې نه، بلکې ترې بهر په سوریه پر خلکو ظلم کوي او همدارنگه د سوریې ظالم پاچا په قدرت کې ساتلو او د خلکو سوریې خلکو سېکولر ساتلو لپاره په قانونو جوړولو کې ښه شهرت لري.

د قانون دغه اصلاح د مسلمانانو په گډون ټول هغه هېوادونه چې د روسیې په لاس اشغال شوي دي، اوس یې د روسیې ژبه، فرهنگ او ځېره د ځان لپاره خوښه کړې ده.

دغه غړ یوازې د رایې ورکولو لپاره نه، بلکې د دې لپاره و چې له دا ډول قانوني اصلاح څخه ملاتړ هم وکړي. دولتي روحانیون هغه واقعیتونه او اهداف ښکاره کوي چې د دغې روحاني مرکز اداره یې د لومړي ځل لپاره مسلمانانو ته جوړه کړه، تر څو اشغال شویو مسلمانانو ته د روسیې حاکمیت په قانوني ډول وښیي او ورو ورو مسلمانان له خپل دین، فرهنگ او ژبې څخه د خپل لوري ته راواړوي.

د روسیې د مسلمانانو د روحانیت مرکزي اداره د ۱۷۸۸م د سپتمبر په ۲۲مه د روسیې د امپراتورۍ د دویم فرمان له مخې جوړه شوه او د ۱۷۸۹م د ډیسمبر په ۴مه په اوفا کې په رسمي ډول پرانیستل شوه، چې د اوفا د حاکم په غوښتنه جوړ شوې وه. دغه مرکز د روسیې د دولت لپاره د مذهبي خلکو د امتحان کولو لپاره جوړ شوي وو، تر څو د روسیې دولت د خپلو گټو لپاره مذهبي خلک غوره کړي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایلي دي: «**إِنَّمَا أَخَافُ عَلَى أُمَّتِي الْأَئِمَّةَ المُضِلِّينَ** » (ترمذي)

*ژباړه: واقعا چې زه مې د خپل امت د هغو امامانو په هکله ځوربږم چې خلک به گمراهی ته رابولي*

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

**لیکوال: شیخ الدین عبدالله**

۱۴۴۱هـ.ق د ذوالقعدې ۲۰مه

۲۰۲۰م د جولای ۱۱مه